بې اودسه لمونځ نه کېږي .

پوښتنه : په اودس کښې به مخ کوم طرف ته کوئ ؟

ځواب : قبلې ته .

پوښتنه : کومې لورې ته چې لمونځ کوئ هغې ته څه وايي ؟

ځواب : هغې ته قبله وايي .

پوښتنه : په شپه اوورځ کښې څو وخته لمونځونه فرض دي ؟

ځواب : پنځه وخته لمونځونه فرض دي.

پوښتنه : د هغو پنځو وختو لمونځونو نومونه کوم دي ؟

ځواب : ۱ـ د سهار لمونځ
۲ـ د ماسپښين لمونځ
۳ـ د مازديګر لمونځ
۴ـ د مابنام لمونځ
۵ـ د ماخستن لمونځ

پوښتنه : د لمانځه څخه وړومبي اعلان ته څه وايي ؟

ځواب : هغې ته آذان وايي

پوښتنه : آذان څه ته وايي ؟

ځواب : آذان هغه خبر دی چې مسلمانان لمانځه ته رابولي ، او په لاندې ډول په اوچت آواز سره ويل کيږي :

اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط

اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ ط حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ ط

حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ط حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ط

اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط

د سهار په آذان کښې به د (حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ط)
ويلونه وروسته (اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ ط)
دوه ځلې وايي .

پوښتنه : ډېر خلک چې په کډه سره لمونځ کوي

هغې ته څه وايي ، او تر ټولو د مخ سړي ته څه وايي ، او د هغه ترشا خلکو ته څه نوم اخلي ؟

ځواب : هغې ته د جماعت لمونځ وايي ، ړومبي سړي ته امام ، او وروسټيو خلکو ته مقتديان وايي .

پوښتنه : کوم ځای چې خاص د جماعت د لمانځه د پاره جوړ شوی وي ، هغه ته څه وايي ؟

ځواب : هغه ته مسجد وايي .

پوښتنه : مسجد ته چې سړی لاړشي ، څه کول په کار دي ؟

ځواب : لمونځ کول ، د قرآن شریف تلاوت
وظیفه لوستل یا چپ کښې ناستل په کار
دي . په مسجد کښې دنیاوي خبرې
شوراویا لوبې کول بد کار دی .

پوښتنه : په لمونځ کولو کښې څه فایدې
دي ؟

ځواب : په لمونځ کولو کښې ډیرې فایدې
دي . خوښه به یې یوځو در ته
بیان کړم !

۱ـ د لمونځ کوونکي سړي بدن اوکالي تل پاک
وي .

۲ـ د لمونځ کوونکي څخه خدای (جَلَّ جَلَالُهُ) راضي وي .

۳- د لمونځ کوونکي څخه حضرت مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ) خوشاله وي .

۴- لمونځ کوونکی پاک خدای (جَلَّ جَلَالُهُ) ته ډېر نژدې وي .

۵- لمونځ کوونکی د مسلمانانو په وړاندې عزت مند وي

۶- لمونځ کوونکی د ډېرو ګناهونو څخه خلاصېږي .

۷- خدای (جَلَّ جَلَالُهُ) لمونځ کوونکی له مړک څخه وروسته خوشحاله ساتي .

تمرین

۱ـ د هرکار په شروع کښې د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ویلو کښې څه فایدې دي ؟

۲ـ اسلام خلکو ته څه بنایي ؟

۳ـ د (لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ) د کلمې ترجمه څه ده ؟

۴ـ د خدای (جَلَّ جَلَالُهٗ) پیغمبر حضرت محمد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په کوم څای کښې زیږیدلی دی ؟

۵ـ قرآن شریف څرنګه نازل شوی دی ؟

۶ـ په شپه او ورځ کښې څو وخته لمونځونه

فرض دي ، نومونه يې واخلئ ؟

۷ـ د آذان کلمې څو دي ، او د سهار په په لمانځه کښې کومې کلمې اضافه کېږي؟

۸ـ مسجد ته چې سړی لاړ شي بايد څه وکړي ؟

۹ـ د لمونځ کولو له فايدو څخه دري غوره فايدې کومې دي ؟

د اسلام پنځه بنا ګانې او يا د مسلمانې پنځه بنسټه

اسلام پنځه بناوې لري چې بايد هرمسلمان ور باندې ايمان ولري ، او په پوره اخلاص سره يې عملي کړي .

د اسلام پنځه بنا ګانې دا دي :

د شهادت کلمه ، لمونځ ، روژه ، زکوٰة او حج

د شهادت کلمه

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط

ترجمه :- شاهدي وايم چې نشته لايق د عبادت مګر الله (ج) دی ، اوشاهدي ودکوم بېشکه محمد (ص) بنده د خدای (ج) او رسول دده دی .

بايد هرمسلمان دغه کلمه په ژبه ووايي ، او په زړه کښې يقين ار ولري چې خدای تعالیٰ حتماً شته ، او يواځينی ذات دی ، کوم شريک او سيال نه لري .

هم ده ټول شيان پيدا کړي دي ، بايد د همدغه ذات عبادت وشي . او محمّد عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ د خدای تعالیٰ بنده او پيغمبر دی .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

کرانو زده کوونکو!

د هر کار په شروع کښې باید :
«بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط» ووایو، ځکه کوم کار چې په بِسْمِ اللّٰه شروع شي خدای پاک «جَلَّ جَلَالُهٗ» په هغه کښې برکت ږدي ، اواسانتیا مومی .

د خوراک د شروع کولو په وخت کښې باید بِسْمِ اللّٰه ووایو ، که بِسْمِ اللّٰه و نه وایو نو د خوړو برکت الوزي ، او شیطان به په خوراک کښې راسره شریک شي . بِسْمِ اللّٰه ته تسمیه هم ویل کیږي

د عبدالله زوی اود عبدُالمُطّلب لمسی دی .
خدای تعالیٰ د انسانانو د لارښوونې د پاره
رالیږلی دی ، او قرآن شریف یې په ده باندې
نازل کړی دی .

لمونځ :ـ لمونځ د اسلام له پنځو بنا ګانو څخه یوه بنا ده چې په هر مکلّف مسلمان باندې په شپه اوورځ کښې پنځه وخته لمونځ فرض عین دی .

لمونځ پاک خدای ﷻ، ته د انسانانو د بندګۍ او عبادت کولو یوه خاصه طریقه ده چې خدای تعالیٰ په قرآن شریف کښې فرض کړی ، او

د خدای (جَلَّ جَلَالُهُ) پیغمبر حضرت محمّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) یې په حدیثونو کښې مسلمانانو ته طریقه بنودلې ده.

روژه

روژه هم د اسلام د پنځو بناګانو یوه بناء ده چې په هر مکلّف مسلمان باندې په کال کښې د رمضان پوره یوه میاشت روژه نیول فرض عین دي.

یعنې هره ورځ باید د سبا له ختلو څخه تر مابنامه پورې نه څه وخورې، نه څه وڅښې، او نه د خپلې میرمنې سره کوروالی وکړې.

زکوٰة

زکوٰة هم د اسلام د پنځو بنا ګانو څخه یوه بله بنا ده او په مالدارو اوشتمنو مسلمانانو باندې فرض عین دی چې د خپلو مالونو او شتمنیو څخه یوه معلومه برخه هرکال غریبانو اوعاجزانو ته ورکړي.

حج

حج هم د اسلام د پنځو بنا ګانو څخه یوه بناء ده ، او په هرمکلّف مسلمان باندې چې د لارې د تګ او راتګ توان ولري په خپل ټول عمر کښې

يو ځل فرض عين دی ، ترڅو هغه بيت الله شريف تەلاړ شي او هلته په داسې حال کښې چې که ښځه وي پوره جامه ولري ، او که نر وي يواځې يو کلک يې له ځان څخه چاپېر کړی او يو څادر يې له ښځې اوږې د پاسه اود کېښې اوږې لاندې تاو کړی يعنې احرام يې تړلی وي ، او له کعبې شريفې څخه کېر چاپېره وګرځي ، او د عرفات په غونډۍ ودريږي ، او د صفا او مروه په مينځ کښې اووه (۷) ځلې تګ او راتګ وکړي .

تمرين

۱ـ اسلام څو بنا کاني لري ، نومونه يې واخلئ ؟

۲ـ هغه رسول او پیغمبر (ص)، چې د پاک خدای (ج)، له خوا زمونږ د لارښوونې لپاره را استول شوی دی ، څه نومیږي ؟

۳ـ پاک خدای (ج)، خپل پیغمبر (ص)، د څه له پاره را لیږلی دی ؟

۴ـ لمونځ څه شی دی ؟

۵ـ په یوکال کښې څو میاشتې روژه نیول فرض دي ؟

۶ـ زکوٰة په کومو کسانو باندې فرض دی ؟

۷ـ په کوم مسلمان باندې حج فرض دی ؟

داودس کولوطریقه

کله چې یو مسلمان د لمانځه قصد وکړي ، نو لومړی باید د خپل بدن څخه بنکاره ناپاکي لرې کړي ، او اِستنجا وکړي ، اوبیا به داسې نیّت وکړي چې :

اودس کوم چې پاک شم اولمونځ راته روا شي.

وروسته به په لاندې ترتیب سره اودس وکړي :

۱- (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ط) به ووایي .

۲- خپل دواړه لاسونه به تر مړوسندو پورې پرمینځي .

۳- خپله خوله به درې ځلې پرمینځي ، اومسواک به

ووهي ، که مسواک نه و د شهادت ګوتـه به ووهي .

۴- خپله پوزه به درې ځلې پرېمينځي ، او سون به يې کړي .

۵- خپل مخ به درې ځلې پرېمينځي . يعنې د تندي د ويښتانو د شـنه کېدو له ځای څخه تر د زنې لاندې برخې پورې ، او د يو غوږ د نرمـې څخه د بل غوږ تر نرمې پورې .

۶- که چېرې ږيره يې ګنه وي نو خلال به يې کړي ، او که رېښې وي نو کوښـښ به وکړي چې د ويښتانو تر بېخونو پورې اوبه ورسوي .

۷- دواړه لاسونه به د څنګلو تر پایه پورې داسې پرېمنځئ چې اول به ښي او بیا کین لاس پرېمنځئ .

۸- د لاسونو ګوټې به خِلال کړي . که چېرته ګوته ، ښکرې او یا ګړۍ یې په لاس وي نو د خپلو ځایو څخه دې یې ښکته او- پورته کړي ، څو ځایونه یې په اوبو لانده شي .

۹- د سر مسحه به وکړي .

۱۰- د دواړو لاسونو په دوه دوه ګوتو یعنې په کتې او د شهادت په ګوتو به د غوږونو ظاهر او باطن طرف مسحه کړي .

۱۱- خپل لاسونه به بیا لانده کړي ، او د درې
کوتو په شـــا دې غاړه مسحه کړي .

۱۲- دواړه پښې به د بنـــګرو تر پایه پورې
داسې پرېمنځئ چې اول به بنۍ او بیا کښې
پښـه پرېمنځئ .

۱۳- اودس به په هغه ترتیب سره وکړي ،
کوم چې په آیت شریف کښې راغلی او د
شهادت کلمه به وایي .

نوټ :- بښوونکی به د زده کوونکو پـه
وړانـدې اودس وکړي ، اوځای پـر
ځای به هغوئ د اوداسه په عـملي
طریقه بانـدې پوه کړي ، بیا به هریو

زده کوونکی په جدا جدا ډول اودس وکړي.
ترڅو زده کوونکي د اودس کولو عملي طریقې سره
په بنه توګه آشنا شي .

د ډوا ځې لمونځ کوونکي له پاره د لمانځه د ادا کولو طریقه

کله چې اودس بشپړ شي ، نو لمونځ کوونکی به مخامخ قبلې ته ودریږي ، او د - لمانځه نیّت به وکړي .
بیا به لاسونه غوږونو ته پورته کړي . تکبیر

پوښتنه : ته څوک یې ؟

ځواب : زه مسلمان یم ؟

پوښتنه: د مسلمانانو دین څه نوم دی ؟

ځواب : د مسلمانانو دین نوم اسلام دی.

پوښتنه: اسلام خلکو ته څه شی بنیئ ؟

ځواب : اسلام خلکو ته دا بنیئ چې : خدای ج یو دی ، او یواځې هم هغه د عبادت وړ دی ، او حضرت محمد (صلی الله علیه وآله وسلم) د خدای (جل جلاله) بنده او رسول دی ، او قرآن کریم د خدای کتاب دی ، اسلام ـــ ربښتینی دی ، د دنیا او آخرت ټولې

«اَللّٰهُ اَكْبَرُ» به ووايي ، او لاسونه به راښکته کړي ، د نامه لاندې به يې کښېښ دي ، او بيا به د ثنا په ويلو شروع کړي .

ثناء :- سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ ط

وروسته به :- « اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ » او بيا به :- « بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط » ووايي ، اولاً دې نه وروسته به سورهٔ فاتحه ووايي.

سورهٔ فاتحه :- « اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۙ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝ اِيَّاكَ نَعْبُدُ

وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۝ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝ لا
صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۝ لا غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ
وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۝ ع اٰمِيْن ط

بيا به سورهٔ اخلاص يا كوم بل سورت ووايي.

سورهٔ اِخلاص :- قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ ۝

اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ ۝ وَلَمْ يَكُنْ
لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝ ع

بيا به «اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط» ووايي، اوركوع ته به بنكته شي، په داسې حال كښې چې خپل زنكنونه به يې د دواړو لاسونو په پنجو- كلك نيولي وي، دري ځلې تسبيح «سُبْحَانَ

رَبِّيَ الْعَظِيمِ ط، به ووايي ، بيا به :
سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ط رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، ووايي
او كه لمونځ په جماعت سره وي نوامام به
سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ط ، او مقتديان به
يواځې (رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ) ووايي او پورته به شي
لږه شيبه به سم ودريږي چې دغوودريدلو
ته قومه وايي .
بيا به (اَللهُ اَكْبَرُ ط، ووايي او سجدې ته به
بښکته شي ، او خپل سر به د لاسونو د پنجو
ترمنځ په ځمکه داسې کښيږدي چې پوزه
او تندی يې په زمکه ولګي .
په سجده کښې به دري ځلې تسبيح -

، سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى ، ووايي بيا به ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط ووايي ، او راپورته به شي، لږه شيبه به سم کښيني چې دې کښيناستلو ته جلسه وايي .

بيا به دويم ځل ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط ، ووايي ، او دويمې سجدې ته به ښکته شي . وروسته له هغې چې په سجده کښې دري ځلې - ، سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى ، ووايي ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ ط ، به وکړي ، اوسم برابر به د دويم رکعت له پاره ودريږي ، اوبِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط سره به د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ په ويلو شروع وکړي ، او - کټ مټ به د اول رکعت په شان دويم رکعت هم وکړي . د دويم رکعت د دويمې سجدې

کولو څخه وروسته به کښینی ، او د تشهد په لوستلو به شروع وکړي .

تشهد :- اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ ط اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ ط اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط

بیا به درود شریف ووایي .

درودِ شریف :- اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ط اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ط

د درود شریف نه وروسته به دعاء ووایي .

دُعاء :- اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ط

بیا به ښي اوکین لور ته د مخ په اړولو - سلام وکړئوي او ، اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ ط به ووایي ، او په دې ترتیب یې لمونځ پای ته رسیږي .

که چیرې لمونځ درې رکعتې اویا څلور رکعتې وي ، له تشهّد ویلو څخه وروسته به ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ ط ، ووایي ، او پورته به شي ، او هغه یو رکعت یا دوه رکعته چې پاتې دي ، د دویم رکعت په شان به یې اداء کړي .

خو د فرض لمونځ په دريم رکعت او څلورم رکعت کښې پواځې سورهٔ فاتحه ويل کيږي ، اوپه سنّت او واجبو کښې د سورهٔ فاتحه سره يو بل سورة هم ويل کيږي ، په آخر کښې به کښيني تشهد، درود اودعاء به ووايي ، اوسلام به وګرځوي .

نوټ :- بنوونکی بايد د زده کوونکو په وړاندې د هر وخت لمونځ اداء کړي ،او ځای په ځای به هغوئ د لمانځه په عملي طريقه باندې پوه کړي ، بيا به په هر يو زده کوونکي په جدا جدا ډول ډول سره لمونځ وکړي تر څو زده کوونکي د لمانځه د عملي طريقې سره په بشپړ توګه آشنا شي .

تمرین

۱- اودس کوونکی باید د اودس په شروع کښې څه ووایي ؟

۲- د اودس نیت وویاست ؟

۳- په اودس کښې د مېنځلو حدونه وښایاست ؟

۴- که د چا په لاس کوتې ، بنکړې اویا ګړۍ وي ، د اودس په وخت کښې باید څه وکړي ؟

۵- په اُیت شریف کښې د غږیو د مېنځلو له پاره کوم ترتیب راغلی دی ؟

٦- قَوَمه څه ته وايي ؟

٧- جلسه څه ته وايي ؟

٨- د دويم رکعت په شروع کښې بايد څه
وويل شي ؟

٩- که لمونځ دري رکعتي اويا څلور رکعتي-
وي ، بايد څرنګه اداء شي ؟

١٠- کله چې لمونځ کوونکی سلام ګرځوي
څه وايي ؟

د لمانځه وختونه

په هر مسلمان باندې په شپه او ورځ کښې پنځه وخته لمونځ فرض عين دی چې په لاندې ډول بيانيږي :

۱ـ د سهار لمونځ :- چې وخت يې د رښتينی سبا د راختلو څخه تر لمر ختلو پورې دی .

۲ـ د ماسپښين لمونځ :- چې وخت يې د لمر له زوال څخه د هر شي د اصلي سيوري څخه پرته د هغه د سيوري تر دوچندی

نېکۍ خلکو ته ښيئ .

پوښتنه : د اسلام د دين کلمه څه ده ؟

ځواب : (لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ) ده .

ترجمه : بې له خدای (جَلَّ جَلَالُهُ) څخه بل هيڅوک د عبادت وړ نه دی ، او حضرت محمد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د خدای جَلَّ جَلَالُهُ استاذی او رسول دی ، دې ته کلمۀ طيبه وايي .

پوښتنه : ته ، ستا مور او پلار او دنيا چا پيدا کړي دي ؟

ځواب : زه ، زما مور او پلار ، زمکې ، آسمانونه او ټول مخلوقات خدای (جَلَّ جَلَالُهُ) پيدا کړي دي

پورې دی

نوټ :- هغه وخت چې لمر د آسمان په نیمایي کښې وي ، د هر شي سیوری د پرلږ وي ، او همدغه لږ سیوري ته چې د غرمې په وخت کښې وي، اصلی سیوری وایي ،

او زوال هغه وخت ته وایي چې لمر د آسمان له نیمایي څخه د لویدیځ خواته لږ میلان پیدا کړي .

۳- د مازدیګر لمونځ :- چې وخت یې د سیوري دوه چندی نه تر لمر لوېدو پورې دی

۴ـ د مابنام لمونځ :ـ چې وخت يې د لمر
د لوېدو نه د شفق تر ورکېدو پورې
دی .

۵ـ د ماخستن لمونځ :ـ چې وخت يې د
شفق د ورکېدو څخه تر راختو د برښتيني
سبا پورې دی .

شفق :ـ هغه سوروالی دی چې د لمر
پرېوتو څخه وروسته لوېديځ لورې ته
د آسمان په څنډو کښې ښکاري .

د لمانځه د رکعتونو شمېر

۱ـ د سهار لمونځ :ـ څلور رکعته دی : اوّل ـ

دوه رکعته سُنَّت دي ، بيا دوه رکعته فرض دي ، او ټول يوک دي .

۲- د ماسپښين لمونځ :- لس رکعته دی اول څلور رکعته سنّت دي ، بيا څلور رکعته فرض دي ، او په آخرکښې بيا دوه رکعته سُنَّت دي .

په فرضو کښې وروستي دواړه رکعتونه تش او نور يوک دي .

۳- د مازديګر لمونځ :- څلور رکعته او- فرض دي چې لومړي دوه رکعته يې يوک او وروستي دوه رکعته يې تش دي .

۴- د مابنسام لمونځ :- پنځه رکعته دی .

اول دري رکعته فرض ، او بيا دوه رکعته سُنَّت دي . په فرضو کښې دريم رکعت تش او نور يک دي .

۵- د ماخستن لمونځ :- نهۀ (۹) رکعته دی

اول څلور رکعته فرض ، بيا دوۀ رکعته سُنّت او په آخر کښې دري رکعته وتر واجب- دي .

په فرضو کښې وروستي دواړه رکعتونه تش او نور ټول رکعتونه يک دي .

نوټ :- يک رکعتونه هغه دي چې د اَلْحَمْدُلِلّٰه تر تمامېدو وروسته يو بل سورت په

کښې هم ویل کیږي ، او په تشو رکعتونو کښې پواځې اَلْحَمْدُ لِلّٰه تر پای پورې ویل کیږي .

۲- د وترو واجبو په دریم رکعت کښې په اَلْحَمْدُ لِلّٰه او سورة ویلو پسې د اَللّٰهُ اَکْبَرُ په ویلو او د غوږنو تر پوځکیو پورې د لاسونو د جګولو او ترنامه لاندې ترلو نه وروسته دُعاءِ قنوت ویل کیږي .

تمرین

۱- په پوه شپه او ورځ کښې څو وخته لمونځ فرض دی ؟

۲ـ اصلي سيوري کوم سيوري دي ؟

۳ـ شفق څه ته وايي ؟

۴ـ د ماخستن د لمانځې د رکعتونو شمېر په جدا جدا ډول وواياست ؟

۵ـ د زوال وخت وښاياست ؟

۶ـ د سهارد لمانځه وخت کوم دي ؟

۷ـ د ماسپښين په لمانځه کښې د تشو رکعتونو شمېر څو دي ؟

۸ـ د سيوري د دوچندي څخه تر لمر لوېدو پورې د کوم لمانځه وخت دي ؟

د کاوندي حقوق

کاوندي هغه چا ته ويل کيږي چې زمونږ د کور په خوا کښې اوسيږي ، برابره خبره ده چې هر څوک وي ، زمونږ د پاک اسلامي دين او سپېڅلي شريعت له مخې کاوندي ډير حقونه لري . زمونږ پيغمبر (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ) به د کاوندي په حق کښې دومره ټينګار کاوه چې اصحاب کرامؓ به په ويره کښې شول چې کوندي کاوندي زمونږ سره په ميراث کښې شريک دی .

زمونږ پېغمبر (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ)، د يو سوال په ځواب کښې چې د ګاونډي په حق کښې ترټنه شوی وُو، دغه لاندې حقونه بيان کړل :

۱- که چېرته بلنه درکړي ، بلنه يې قبوله کړه خوچې بلنه يې د بدۍ له پاره نه وي.

۲- که چېرته ستا قدرت وي ، او همسايه درځخه قرض وغواړي ، قرض ورسره وکړه.

۳- که چېرته مريض شو ، پوښتنې ته يې ورشه .

۴- که چېرته په نېک کار کښې يې کومک در ځخه وغوښته ، نو کومک ورسره وکړه .

۵- که چېرته غم ورپېښ شي نو د تسلۍ له پاره

ورشه .

٦- که کومه بنادي ورته پيدا شي ، نو د
مبارکی له پاره ورشه .

٧- که چېرته مړشي ، نوجنازې ته يې ورشه .

٨- که چېرته لرې ځای ته په سفر لاړشي، نو
په ښه ټوکه يې د کور او مال ساتنه کوه .

٩- که چېرته ستا په قدر نه پوهېده نوضرر
مه ورسوه ، بلکه ښه لار ورته وښايه .

١٠- د کاوندي د اجازې نه پرته خپل
کور د هغه په کور مه جکوه .

د مسکینانو حقوق

ګورو چې د دنیا په ژوند کښې ټول انسانان یو شان نه دي.

ځینې د شتو او هستۍ خاوندان دي او ځینې بیا څه نه لري ، عاجزان او مسکینان دي ، نو د اسلام پاک او سپېڅلی شریعت په هغو مسلمانانو باندې چې د مال او شتو خاوندان دي ، د مسکینانو او عاجزانو پالنه وظیفه کړځولې ده ، او مسکینانو او عاجزانو ته یې د شتمنو او مالدارو په شتو او مالونو

پوښتنه : خدای (جَلَّ جَلَالُهُ) دا دنیا څرنګه پیدا کړې ده ؟

ځواب : خدای (جَلَّ جَلَالُهُ) دا دنیا پخپل بشپړ قدرت او حکم سره پیدا کړې ده .

پوښتنه : حضرت محمّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) څوک دی ؟

ځواب : حضرت محمّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د خدای نیک بنده او رسول دی ، او مونږ د حضرت محمّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) امتیان یو .

پوښتنه : پیغمبر (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په کوم ځای کښې زېږېدلی دی ؟

ځواب : د سعودي عربستان په یوبنارکښې چې مکه معظمه نومېږي، پیدا شوی دی.

کښې حق ورکړې دی .
په قرآن کریم او د پیغمبر ﷺ، په احادیثو
کښې چې د زکوٰة اوعُشر، صدقهٔ فطر
کفارې او هم داسې د نورو صدقاتو یادونه
شوې ده . دا ټول د مسکینانو حقونه دي
چې د مال او شتو خاوندان به یې مسکینانو
ته ورکوي ، او که یې ور نکړي ، خدای
تعالیٰ به د قیامت په ورځ ترې پوښتنه
وکړي ، او هم دا مالونه به ورته د دوزخ
په اور کښې سره کېږي ، او د دوځ
تندي ، اړخونه او شاګانې به ورباندې
داغل کېږي ، او داسې به ورته ویل کېږي ،

چې دا ستاسې هغه مالونه دي چې تاسې د خپلو
ځانونو لپاره خزانه کړي وو ، نو د هغومالونو
خوند وځکئ چې تاسې ټول کړي وو او
همداسې د پېغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پـه
احاديثو کښې هم راغلي دي چې د دغو
شتو او مالونو څخه به ورته پو داسې زهرجن
مارجوړ شي چې د ډېرو زهرو نه به يې
د سر پوستکی اوښتی وي ، يعنې ګنجی به
وي او د غاړې نه به يې تاو شي اوخوله
به يې په وښکيو کښې ورته ولګوي ، چيچي
به يې او ورته به داسې وايي چې :
زه ستا مال يم اوزه ستا خزانه يم نو د دې

له پاره چې د شتو او مالونو خاوندان په آخرت
کښې د داسې عذابونو څخه خلاص شي ،
ورته پکار دي چې اوس مسکينانو ته
خپل حقونه ورکړي چې په آخرت کښې د -
عذاب نه په خلاصوالي بر سېره د پوره اجر
او ثواب خاوندان هم شي ، او په دنيا کښې
به د دوئ په منځ کښې ښه مينه ، محبّت
او نزيات اخلاص هم پيدا شي ، او همدغه
مينه او اخلاص دی چې د اجتماعي کارونو
پر مخ بېولو کښې پوره تأثير لري ، اود اِتحاد
اتّفاق او خواخوږی سبب کيږي .

تمرین

۱- ګاونډي چا ته ویل کېږي ؟

۲- ګاونډي څخه حقونه بیان کړئ ؟

۳- مالداران که په خپلو مالونو کښې مسکینانو ته حق ورنکړي څه کېږي ؟

۴- د مسکینانو حق د مالدارو په مالونو کښې - څه شی دی ؟

۵- که شتمن خلک له خپلو مالونو څخه د- غریبانو حقوق ورکړي ، څه ګټه ترې راوچتېږي .

قرآن کریم د دویم ټولګي لپاره

د قرآن کریم دوه برخې دي داسې په نظر کښې ونیول شي ، چې یوه یې لوستل کیږي ، او بله یې حافظې ته سپارل کیږي او یادیږي . لکه په لاندې ډول :

الف : د لوستلو برخه د قرآن کریم د لومړۍ سپارې اوله څلورمه برخه ده .

ب : د یادولو برخه عبارت ده له آیة الکرسی
او د قرآن کریم د وروستیو لسو سورتونو
څخه .

د یادولو برخه

آیت الکرسی

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَللّٰہُ لَاۤ اِلٰہَ اِلَّا ہُوَ ۚ اَلۡحَیُّ الۡقَیُّوۡمُ ۚ لَا تَاۡخُذُہٗ سِنَۃٌ
وَّلَا نَوۡمٌ ؕ لَہٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الۡاَرۡضِ ؕ مَنۡ
ذَا الَّذِیۡ یَشۡفَعُ عِنۡدَہٗۤ اِلَّا بِاِذۡنِہٖ ؕ یَعۡلَمُ مَا بَیۡنَ
اَیۡدِیۡہِمۡ وَمَا خَلۡفَہُمۡ ۚ وَلَا یُحِیۡطُوۡنَ بِشَیۡءٍ مِّنۡ
عِلۡمِہٖۤ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ کُرۡسِیُّہُ السَّمٰوٰتِ وَ
الۡاَرۡضَ ۚ وَلَا یَـُٔوۡدُہٗ حِفۡظُہُمَا ۚ وَہُوَ الۡعَلِیُّ الۡعَظِیۡمُ ﴿۲۵۵﴾

لَآ اِكْرَاهَ فِى الدِّيْنِ ۙ قَدْ تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ۚ
فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوْتِ وَ يُؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ فَقَدِ
اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ۗ لَا انْفِصَامَ لَهَا ؕ وَاللّٰهُ
سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٥٦﴾ اَللّٰهُ وَلِىُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۙ يُخْرِجُهُمْ مِّنَ
الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓـُٔهُمُ
الطَّاغُوْتُ ۙ يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ
اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٥٧﴾

آیاتها ۵ | (۱۰۵) سُوْرَةُ الْفِيْلِ مَكِّيَّةٌ (۱۹) | رکوعها ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ۝ اَلَمْ
يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ۝ وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ
طَيْرًا اَبَابِيْلَ ۝ تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ۝
فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّاْكُوْلٍ ۝

آیاتها ۴ | (۱۰۶) سُوْرَةُ قُرَيْشٍ مَّكِّيَّةٌ (۲۹) | رکوعها ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ۝ اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ ۝
فَلْيَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ۝ الَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ مِّنْ
جُوْعٍ وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ۝

سُوْرَةُ الْمَاعُوْنِ مَكِّيَّةٌ (۱۷) (۱۰۷)

اٰيَاتُهَا ۷ رُكُوْعُهَا ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَرَءَيْتَ الَّذِىْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ۝ فَذٰلِكَ الَّذِىْ يَدُعُّ
الْيَتِيْمَ ۝ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ۝ فَوَيْلٌ
لِّلْمُصَلِّيْنَ ۝ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝
الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ۝ وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ۝

سُوْرَةُ الْكَوْثَرِ مَكِّيَّةٌ (۱۵) (۱۰۸)

اٰيَاتُهَا ۳ رُكُوْعُهَا ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۝ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝ اِنَّ
شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ ۝

پوښتنه : څوك چې د حضرت محمّد ﷺ
پيغمبري نه مني ، هغه ته څه
ويل کيږي ؟
ځواب : هغه ته کافر ويل کيږي .
پوښتنه : د حضرت محمّد ﷺ دمنلو څخه
مقصد څه دی ؟
ځواب : د حضرت محمّد ﷺ د منلو څخه
مقصد دا دی : چې هغه د خدای
ﷻ خاص بنده اوغوره پيغمبر
وګڼو ، خپل محبت ورسره وساتو ، او -
حکمونه او طريقې يې عملي کړو .
پوښتنه : څنګه معلومه شوه چې محمّد ﷺ

آیاتها ٦ (١٠٩) سُوْرَةُ الْكٰفِرُوْنَ مَكِّيَّةٌ (١٨) رُكُوْعُهَا ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۙ لَآ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۙ وَلَآ
اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۚ وَلَآ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۙ
وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ؕ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ع

آیاتها ٦ (١١٠) سُوْرَةُ النَّصْرِ مَدَنِيَّةٌ (١١٤) رُكُوْعُهَا ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ۙ وَرَاَيْتَ النَّاسَ
يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ۙ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ
رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ع

آياتها ٥ | (١١١) سُورَةُ اللَّهَبِ مَكِّيَّةٌ (٦) | رُكُوعُهَا ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ۝١ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَ
مَا كَسَبَ ۝٢ سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۝٣ وَّامْرَاَتُهٗ ؕ
حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ۝٤ فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ۝٥

آياتها ٤ | (١١٢) سُورَةُ الْإِخْلَاصِ مَكِّيَّةٌ (٢٢) | رُكُوعُهَا ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝١ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝٢ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ
يُوْلَدْ ۝٣ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝٤

سُوْرَةُ الْفَلَقِ مَكِّيَّةٌ (۱۱۳) (۲۰) — اٰیاتُها ۵ — رُكُوْعُها ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۙ﴿۱﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۙ﴿۲﴾ وَ مِنْ
شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ۙ﴿۳﴾ وَ مِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِی
الْعُقَدِ ۙ﴿۴﴾ وَ مِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿۵﴾

سُوْرَةُ النَّاسِ مَكِّيَّةٌ (۱۱۴) (۲۱) — اٰیاتُها ۶ — رُكُوْعُها ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۙ﴿۱﴾ مَلِكِ النَّاسِ ۙ﴿۲﴾ اِلٰهِ
النَّاسِ ۙ﴿۳﴾ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۙ الْخَنَّاسِ ۙ﴿۴﴾ الَّذِیْ
يُوَسْوِسُ فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۙ﴿۵﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ ﴿۶﴾

د خدای (جَلَّ جَلَالُهُ) پیغمبر دی ؟

ځواب : په قرآن کریم کښې راغلي دي چې حضرت
محمد صلی الله علیه وسلم د خدای جَلَّ جَلَالُهُ پیغمبر دی .

پوښتنه : قرآن کریم څرنګه نازل شوی دی ؟

ځواب : قرآن کریم د خدای جَلَّ جَلَالُهُ له لوري د
حضرت جبرائیل علیه السلام په واسطه په
حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې د ضرورت
سره سم انسانانو ته د سې او حقې لارې
د بسوولو له پاره ټوټه ټوټه یعنې یو یو
اٰیت یا یو یو سورت نازل شوی دی .

پوښتنه : حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلام څوک دی ؟

ځواب : داسې پرښته ده چې د خدای جَلَّ جَلَالُهُ

حکم او وحي به يې پيغمبرانو ته راوړله .

پوښتنه : مسلمان د خدای تعالیٰ څنګه بندګي کوي ؟

ځواب : کلمه وايي ، لمونځ کوي ، زکوٰة ورکوي روژه نيسي ، او که توان يې وي حج کوي.

پوښتنه : کلمه څه شی دی ؟

ځواب : په خوله ، لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ، ويل او په زړه ورباندې باور درلودل دي

پوښتنه : لمونځ څه ته وايي ؟

ځواب : لمونځ د هغو کارونو او دُعاګانو مجموعه ده چې د ، اَللّٰهُ اَکْبَر ، په ويلو سره شروع کيږي ، اود ، اَلسَّلَام عَلَيْکُمْ ـ

وَرَحْمَةُ اللهِ، په ویلو سره پای ته رسیږي .

پوښتنه : د عبادت هغه طریقه چې هغې ته لمونځ ویل کیږي څرنګه ده ؟

ځواب : لمونځ کوونکی پس له اودس کولو نه په داسې حال کښې چې پاکې جامې پې اغوستې وي ، د لمانځه په معلوم وخت په مسجد یا بل پاک ځای کښې د خدای (جَلَّ جَلَالُهُ) ته درېږي ،

د نیت او تکبیر ویلو ، اودغون ونو تر پوځکیو پورې ، دلاسونو پورته کولو نه وروسته لاسونه تر نامه لاندې بږدي ، د قرآن کریم آیتونه وایي .

د خدای تعالیٰ صفتونه بیانوي ، او د خدای تعالیٰ لوی والی په زړه کښې راولي ، او خپله عاجزي ښکاره کوي .

پوښتنه : په کوم ځای کښې لمونځ کول ډېر ثواب لري ؟

ځواب : فرضي لمونځونه په مسجد کښې ، او نفل او سنت په کور کښې ډېر ثواب لري .

پوښتنه : د لمانځه نه د مخه د مخ ، لاسونو او پښو مینځلو او د سر مسحه کولو ته څه ویل کېږي ؟

ځواب : هغې ته اودس ویل کېږي .

AFGHANISTAN EDUCATION COMMITTEE
دافغانستان د تعلیم او تربیې اداره

دینیات



دوهم ټولګی لپاره

کال: ۱۳۶۵ - هـ.ش.

دینیات

د دویم ټولګي لپاره

کال ۱۳۶۵هـ ش